لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۱۷/۰۴/۵۰

# یوویشتمه پېړی کې د پښتو ژبې پلار پوهاند زیار

یوه یوازېنۍ- کره لیکنۍ پښتو

پښتو ژبه په خپل ټول اوږد لرغوني تاریخ کې د پرله پسې ودې، پراختیا او پرمختیا له کبله په نومیرلې توګه د ژبني یووالي، کره والي، نوې رغاونې، نیولوجېزمونو، د پښوییز رغانیزو، لیکدودي، سبک او ستایل له پلوه هیڅکله دومره بډایه ګټمنه شتمنه ژبه نه وه لکه نن سبا. د پښتو ژبې وییپانګیزه زیرمه هم هیڅکله دومره ستر زیرمتون نه دی درلودلي او همدارنګه پښتو ژبه هیڅکله د وسمهال په شان د یوې یوازېنۍکره لیکنۍ، کره لیکدود په بڼه کې نه ده را څرګنده شوي. لکه نن سبا. په لنډو ټکو کې پښتانه وسمهال یوه ستره ګټمنه علمي، ادبي، هنري او رسنیزه ځواکمنه لیک ژبه په خپلواک او اختیار کې لري. وسمهال پښتو ژبه ورو ورو له بې شمیرو رنګارنګي ګړدودي پړاوه د راوتلو په حال کې ده. پښتو ژبه د خپل چټک پرمختګ له امله د یوې یوازینۍ کره لیکنۍ ژبني پړاو ته د لوړتیا موندلو پر لوري مخ پر وده روانه ده. که څه هم پښتنو واکمنو مشرانو د خپل واکمنۍ په تاریخ کې له پښتو ژبې سره ډیرې سترې نه بښوونکي تېروتنې او ناغیرې کړي دي. همدارنګه زموږ د پلرنې هیواد ځینې ناځوانه ځامن په ډیره ناځوانۍ سره د خپلې مورنۍ ژبې ودې او پرمختګ لپاره په پښتو ژبه کې لیکنې نه کوي.

اوس پوښتنه دا ده، چې په پښتو ژبه کې دا ننۍ پرمختګ څرنګه رامنځ ته شوي دی. نن د پښتو ژبې په څېړنیزو اثارو، څېړنیزه کرکتونکي لیکنو، کتابونو او سیاسي او ټولنیزو رسنیو کې داسي لیکنه نشته، په هغه کې د ژبپوه پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار د معیاري غورځنګ د لوړتیایي بهیر اغېز شتون ونلري.

د پښتو ژبې تاریخي چټک پرمختګ یو ستر بنسټیز لامل د پښتنو کولتوري ویښتیا سربیره د ژبپوه پوهاند دوکتور مجاور زیار د نیم پیړییز ژبپوهنیز معیاري غورځنګ له ستري بریا سره تړاو لري. د پښتو ژبپوهنې ستر سرلارى منلي ژبپوه پوهاند دوکتور مجاور زیار په مشرۍ معیاري غورځنګ پر نویو نړیوالو څېړنیزو زرینو آرنو او میتودونو سمبال دی. دې غورځنګ په ډېر ستر صبر او زغم، په ډیره ژبپوهنیزه ځیرکتیا او په علمي بڼه کې د نیمې پیړۍ راهیسې خپلې هڅې د پښتو ژبې لیکدود ودې او پرمختګ لپاره پیل کړي دي. پوهاند دوکتور زیار لومړنۍ افغان اکاډېمیک ژبپوهاند شخصیت دی، پښتو ژبې ته پر نړیوالو پوهنتوني کچ نوي ټولمنلي ژبپوهنیزه نورمونه، آرونه او معیارونه رامنځته کړي دي. پوهاند زیار په پښتو ژبه کې پر هیوادني، سیمه ییز او نړیوال کچ ریفورمونه او سمونونه پلي کړي دي او پښتو ژبې کې د نړۍ له وتلي ژبو سره په ګډه د سیالۍ او برابرۍ په موخه نوې ژبپوهنېزه تیوریکي او مېتودلوجیکي معیارونه ټاکلې دي.

پوهاند زیار تر بل هر افغان پښتون ژبپوه دې ټکی ته ډیر ښه ځیر شوي دی، چې زموږ مورنۍ، لومړنۍ ملي، رسمي پښتو ژبه له ډیري مودې راهیسې د لاسبرو پردیو ژبو تر ګواښونو او کولتوري یرغګرو تر ګونډو لاندې شډله پرته ده او همدارنګه پښتو ژبه د بېلا بېلو ګړدودنو په لومه کې ګډه وډه ښکیله پاتې ده .

د پښتو ژبې په تاریخ کې د پوهاند زیار اکاډېمیکي څېړنې او اکاډېمیکي معیاري هڅې بیساري، بې جوړې او هیښناده دي. پوهاند زیار د افغانستان د پښتنې افغاني ټولنې په نومیالیو، نوموتو، ژبپوهانو، ادبپوهانو کې تر ټولو مخکښ پیلامګر، نوښتګر، سمونوال، څېړنوال، لیکوال او پر لوړ نړیوال کچ علمي اکاډېمیک څو اړخیزه شخصیت د خپلو ګڼشمیر کمساري څېړنېزو شاهکارنو، ژبپوهنیزو علمي اثارو او کتابونو تر شا له ډیرو ړون اندو پښتنو پټ پاتې شوي دی او د ډیرو روڼ اندو افغان پښتانه قلموالو، لیکوالو او د پښتو ژبې مینانو پام سم نه دی وراوښتي. په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله وینا په پښتنه ټولنه کې د پوهاند زیار ژبپوهنیزه لارښودنې او لارښوونې ټول روڼ اندي پښتون ولس ته همماله جوت نه ښکاري او د استاد زیار نویو ژبپوهنیزو علمي اثارو او میتودونو ته یوازې د څو تنو دودیزپالو نیملوستو ژبپوهانو گوتنیونکي پام وراوښتي دی.

پوهاند دوکتور مجاور زیار د خپل کلیوالي چاپیریال یا ښوونځی رانیولې، بیا تر کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، د پیښور پوهنتون، د سویس برن پوهنتون، د المان د برلین ښار هومبولت پوهنتون، د انګلستان د اکسفورډ پوهنتون او داسې نورو علمي مرکزونو کې تېزسونه، ارزښتمني بیساري ژبپوهنیزه څېړنې او لیکنې تر سره کړې دي، لکچرونه ورکړي او لا تر اوسه د پوهاند او دوکتورا پر کچ په ژبنیزو څېړنو کې بوخت پاتې شوي دی. د پوهاند زیار علمي اثار په ۱۳۱ کتابونو کې لیکلي شوي دي او د ګران هیواد څوارلس ژبو پر څه له پاسه سل ګړدودنه څېړلي دي او څه له پاسه درې زره څېړنیزه لیکنې او شننې تر سره کړې دي. د هندو اروپایي او اریایي ژبپوهنې په هره څانګه کې لوړې څانګپوهمیزه څېړنې ترسره کړې دي. د ده علمي او تحقیقاتي څېړنې د هیواد په د ننه او بهر کې په پښتو، پارسي، الماني او انګریزي ژبو کې په رسنیو، ورځپانو، رادیو او ټلویزیونو کې خپرېږي. د افغانستان او سیمې ډېرې ژبپوهاند ور سره پیژنګلوي لري.

پوهاند زیار د ښلاښلو نړیوالو پوهنتونو پر کچ په ژبپوهنیزه زرینو آرونو کې د پښتو پښویه (ګرامر) پښتو ویپوهنه، پښتو لیکلار په اړه نوي په زړه پوري څېړنې تر سره کړې دي، چې تر اوسه بل هیڅ افغان پښتون ژبپوه په دې لوړکچه نه دي تر سره کړې او د نوموړي بیساري علمي چارې نور پښتانه ژبپوهان سخت ننګولي دي. هر چا چې په پښتو ژبه کې د پوهاند زیار څېړنې او لارښوونې لوستي دي، هغه یې په خپله پښتو او په خپلو فکرونو کې ژور ډوب کړي دی. د زیار معیاري غورځنګ ټول ځانخبري پښتانه، د پښتو ژبې لیکوال، څېړنوال، کره کتونکی او سیاستوال پر هیوادنۍ او نړیوال کچ د خپلې مورنۍ پښتو ژبې د سیالیو او ننګونو له ولولو سره مخامخ کړي دي. د معیاري غورځنګ، هستونو، نوښتونو، څېړنیزو او عالي هڅو په وړاندې هیڅ یو روڼ اندي باوجدانه، ځانخبرې ویښ افغان پښتون بې تو‌پیره نشي پاتې کیدای.

پوهاند زیارخیل ټول عمر د پښتو ژبې په پرمختګ، پراختیا او کره والي کې تیر کړي دی. پوهاند زیار په نویو ژبپوهنیزو آرونو ولاړ د پښتو ژبې یو ریښتنی صادق خدمتګار دی. هغه څه چې پوهاند زیار پښتو ژبې ته له نورو ژبو سره د سیالي په موخه رامنځ ته کړي دي، بل هیڅ ژبپوه پښتون نه دي وړاندي کړي. پوهاند زیار پښتانه ژبپوهان حیران کړي دي، ځکه دی پښتو ژبه باندې په یوه بیسار استثنایي فوقعلاده ډول برلاسی لري. په یوویشتمه پیړی کې د معیاري غورځنګ مشر پوهاند مجارو زیار د ځانګړو ځانګړتیاو درلودلو امله د پښتو ژبې په تاریخ کې باید د پښتو ژبې پلار په نامه وستایل او ونومول شي.

تر ټولو هیښانده دا ده، چې زوړ زیار پوهنتوني ځوان پښتون پښت ته پښتو ژبه په نویو ژبپوهنیزو فکرونو او میتودولوجیکي زرینوآرونو کې وړاندي کړي. دی له دې لارې د پښتنو افغانانو تر منځ ملي یووالي، ژبنی یووالي، ژبنی پوهاوي، ژبنیزغم، د پښتو او پښتونولی وررولی احساس پیاوړي کوي. پوهاند زیار د خپل معیاري غورځنګ د یوې کره لیکنی پښتو له لارې د پښتنو ترمنځ له امونه تر اباسینه، له اسلام کلا تر اسلام اباده او له بولانه تر واخانه د پښتني ژبني کولتور او ملي یووالي احساسات ټینګوي او همدارنګه د یوې یوازینی کره پښتو ژبې له لارې لر اوبر پښتانه افغانان په لوی افغانستان کې ژبني یووالي ته رابولي او پر یوه ټغر یې را ټولوي.

د دې ویښ معیاري غورځنګ پلویان ورځ تر بلې په ډېریدودي، د ژبپوه پوهاند زیار غورځنګ د پیړیو پیړیو اوږد واټن په نیمه پیړي کې وهلي دی. دې غورځنګ پښتو ژبې ته ستایلیستیکي آرونه، چې د کره لیکلارې سره تړو لري رامنځته کړي دي.

له دې سره د پښتو ژبې راتلونکي ژبپوهنیزو پانګو، علمي، ادبي،نثر او هنري زېرمو ته یو پوخ بنسټ اینودلي شوي دی. پوهاند زیار پښتنو ته د یوې نوې ژبپوهنې لار پرانیستلې ده. د دې بیساري غورځنګ له پیلیدو سره زموږ خوږه پښتو ژبه یوې کره لیکنبنی او ځانته یو خپلواک ادبي سبک وستایل موندلو کې مخ پر وده روانه ده .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

لیکنۍ ژبه نن زموږ د خبرو اترو کولتور بنسټیز عنصرونه جوړوي او په یوویشتمه پیړۍ کې د انسانانو د نوې یا
عصري بریښنایي اړیکو یا د ټولنیزو رسنیو د لیکلو نه بیلدونکي برخه جوړوي. له همدې امله د عامه پوهاوي لپاره
یوه کره لیکنۍ پښتو ژبه څښته ډیره اړینه ده. د پښتو ژبې د کره لیکنښې سره د ښاغلی پوهاند زیار نوم ټینګ تړلي
شوي دی. د ښاغلی زیار نوم د پښتو ژبې کره لیکنۍ بڼې سره په همغانیزه توګه کاورل کیږي. ښاغلی زیار تر
اوسه د پښتو ژبې تاریخ کې په ټولو ژبپوهانو کې تر ټولو مخکښ پیلامګر او اغېزمن منلي شخصیت پیژندل شوي
دی. که څه هم استاد زیار خپلې علمي ژبپوهنیزه څېړنې د خپل څانګپوهنیزه پازوالی (مسلکي مسوولیت) ګڼې. د
پښتو ژبې یوه کره لیکښه د ده د ټول ژوند له سترو لاسته راوړنو څخه ګڼل کیږي. موږ پښتانه افغانان او راتلونکې
نسلونه باید د ژبپوه پوهاند دوکتور زیار د نه ستړي کیدونکي علمي هلو ځلو، فکرونو او زیارونو پوره پوروړي او
منندویان واوسو. نن د پوهاند زیار نیمه پیړۍ ژبپوهنیزه زیار باندې هر ویښ افغان پښتون باید وویاړي.
لوی څښتن تعالی د دې ستر علمي شخصیت، ژبپوهنیزه علمي هڅې، شپه، ورځ کار په خپل دربار کې په عبادت
قبول او مقبول وګرځوي، ځکه دغې استاد په خپل ټول ژوند کې د څه د پاسه شپیته میلیونو سپیڅلې مسلمانانو ژبه په
ډیره امانتداري سره پاللي او رغولي ده. له همدې امله نن ورځ د څښتن تعالی د ښیګڼې سیوري پر پوهاند زیار، پر
پښتو ژبه او پر پښتانه غوړیدلي لویدلي دی.
پوهاند زیار زموږ لومړنۍ ملي، رسمې او د لیک ژبې کولتور ته د پښتو ژبې ودې او کره والي (معیاریتوب) ته پر
هیواني او نړیوال کچ هاندې هڅې تر سره کړي دي. پوهاند زیار د نیم پېړییزو څېړنیزو ازمېښتونو پر بنسټ پښتو
ژبه پر پوهنیز آرونو د سیمه ییزو سیالو ژبو سره سیاله ګرځولي ده .
زه ژبپوه نه یم، خو خپل وجدان مجبورکړي یم، څو کرښې د خپلې مورنۍ ژبې په اړه ولیکم، د پښتو ژبې د لیکلو
په برخه کې زه یو ښاري نیملوستی پارسي، الماني او کابل او ځپلي اماتور افغان پښتون یم. ما تر اوسه ښوونځی او
پوهنځی پخپله مورنې ژبه کې نه، بلکې په پردۍ ژبه کې لوستي دي.
ما ته دا ډیره ګرانه ده، چې زه پر پښتو لیکنه وکړم او بیا زما په شان نیملوستی افغان د ژبپوه د پوهاند دوکتور زیار
د پوهنیزو چارو په اړه سمې او دقیقي خبرې وکړي. د پوهاند مجاور احمد زیار د څانګپوهنې په برخه کې لیکل څه
آسانه کار نه دی.داسې هم نه شي کیدای چې د کوم شي په اړه سړی خبرې نشي کولې، نو باید غلی پاتي شي.
تر اوسه په پښتو ژبه کې هر پښتون ژبپوه لیکوال او قلموال هغسې لیکني کړي، چې څنګه د هغه زړه غوښتلي دي.
په بله وینا هر څوک هغه څه کوي، چې څه د ده زړه غواړي، خو هغه څه نه کوي چې باید وکړي، اما ټول غواړي
دې بهیر ته ځانونه ورګډ کړي. د پوهاند زیار د نیم پېړییزه غورځنګ هڅو او هلو ځلو پښتو ژبه کې خپلسري
بیلابیل لیکدودي ګډود حالت ته د پای ټکی ییښودلي دی.
پوښتنه دا ده چې ولې پښتانه لیکوال، قلموال او د پښتو ژبې لیکوال د ښاغلی زیار د معیار غورځنګ له
ترمینالوجیکي لارښودونو او لارښوونوسره سم خپلې لیکنې نه سمبالوي، څو د خپلسرو لیکوالو او څانګپوهانو ناکره
پښتو او خپلسري وبیرغاونې ګډوډیو مخه ونیول شي.

## د یوې یوازینې کره لیکنۍ پښتو او د پښتو ژبې سلګونه سیمه ییز ګړدودنو جلاولي اړین دی.

د پښتو ژبې په سلګونه ګړدودونه یا لهجې او د پښتنو په سلګونه ټبرونه د پښتو ژبی پانګې او زیرمې جوړوي.
ګړدود یا لهجه د یوې ژبې یو سیمه ییز ډول دی. لهجې نه باید ټېل وهل شي او ترینه تیر شو، بلکې تر یو علمي
غوړچان ورسته ترینه په یوه معیاري پیاوړي جګه ژبه کې وکارول شي او تر ډیره بریده له پردیو وییونو یوه نړه
کره ژبه جوړه کړل شي. کره ژبه په ډیرو ژبو کې له ګړدودنو څخه وده کړي. ګړدودوي ژبه باید له معیاري کره
جګې ژبې څخه بیله وساتل شي او ورسره د ګړدودنو پالنه وشي او په سیمه ییزه کچه په ګړدودنو کې لیکنې وشي،
د پښتون ولس د هر ټبر لیکوال کولالي شي پر سیمه ییز کچ په خپله ګړدودي ژبه کې لیکنې وکړي. هممهاله جګه
کره لیکښه معیاري پیاوړي پښتو د لهجو څخه جلا وساتل شي. په بله وینا هر افغان پښتون باید خپله سیمه ییزه لهجه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

وساتي او کولی شي ورسره جګه پښتو ژبه، کره ليکنی پښتو زده کړي. پياوړې جګه ژبه د پياوړيو جګ لوستو پوهنتوني پوهانو پر پوهنتوني کچ وي. موږ مجبور يو پښتو ژبه له ښلا ښلو ګړدودنو څخه يوه پياوړي جګې نړه پر پوهنيزو آرونو ولاړه او ټولو ته د منلو وړ خوږه، پسته ژبه وګرځو. د پښتو ژبې ګړدودنه يوازې په کندهاري او ننګرهاري ګړدودونو کې بايد خلاصه نشي. د پښتنو ټول ټبرونه يا قبيلې په خپلو سيمه ييزو ګړدودنو کې سره ګړيږي. موږ ټول پوهيزو، نن پښتون ولس يوې کره ليکنی پښتو ژبې ته اړتيا لري.
ژبه تل د اووښتون او بدلون په حالت کې ده، د پښتو ژبې کره کيدل د يوويشتمې پيړۍ د پوهني اړتيا او غوښتنه ده .
آيا موږ فکر کوو، کله چې موږ د يوې موضوع په اړه غږيږو او يا دا چې موږ په ورځيني ژوند کې څنګه خپله مورنی پښتو ژبه ليکو او کاروو؟ کله چې موږ په کورني ژوند کې د ورځينی ژبې پر ځای په جګه کره ژبه خبرې وکړو، داسي مالوميږي، چې ډير جدي حالت رامنځ ته شوي دی يا يو بدلون تر سترګو کيږي. توپير دا دی چې يوه ژبه د لوستو پوهنتوني روڼ اندو او بله ژبه د نالستو کليوالو ده. په معياري پياوړي جګه ژبه کې سړی د ورځنی ژبې نه په ډير څه پوهيږي. په همدې وجه جګه ژبه ځانته ارزښت ورکوي په زړه پوري ښکلي غږ او اهنګ لري.
د پښتو ژبې هر ګړدود خپل ځانته جلا ځانګړي اوازونه او غږيز جوړښت لري.
سړی د دې تمه ونلري چې ټول خلک بايد نن سبا د خپلې ژبې عادات بدل کړي، دغه پرمختګ، وده او بدلون په يوه اوږده موده کې رامنځ ته کيږي، پښتو ژبه په ميليونو نويو مسلکي پوهنيزو، تخنيکي، فلسفي اقتصادي، ټولنيزو وييونو او نيولوجيزمونو جوړونې ته اړتيا لري. ژبه زموږ د پوهې افقي پولې جوړوي، ژبه د انساني روح ټول ځواک دی، ژبه په چوپتيا کې جوړيږي، پرته له پښتو ژ بې څخه زموږ افغاني هويت ملي پيژند او ملي وينتيانه ناشوني ده. د همدې ژبې په مرسته موږ افغانان سولې، پوهاوي، ملي يووالي، او ولسواکی ته رسيږو. پښتو ژبه زموږ د ملي هويت، د يو افغان ملي پيژند مهمه نښنه ده.

## ژبپوه پوهاند دوکتور مجاور زيار يوويشتمه پيړۍ کې د يوې کره ليکنی پښتو پلار په نامه ستايل يا لقب نومول

زما د پلټنې او ازونې له مخې که څه هم پخوا د پښتو ژبې پلار مومند بابا ياد شوي دی او ډيرو نورو پښتو ژبپوهانو د پښتو ژبې کره والې، يووالي تر څنګ پښتو ليکدودي او ګړدود او زړې پانګې په دودونه او رغاونه کې څه نا څه غير علمي هاندې هڅې کړي دي. دوی د نن ورځې له نويو ژبپوهنيزو او وييپوهنيزو آرونو سره نا اشناول. نړۍ، ټولنه او ژبه تل د اووښتون، بدلون اود پرمختګ په حالت کې وي. د پښتو ژبې په اسمان کې د پير روښان او درويزه د ټولنيزې فلسفي رنګونه، د سليمان ماکو ادبي پښتو نثر، د رحمان بابا روحانيت، د خوشال خان خټک ادبي کلاسيکه پانګه، د محمد هوتک پښتو نثر، د حمزه بابا حماسي غزلونه او همدارنګه د پوهاند علامه حبيبي تاريخ او سياست ستوري ځليږي. د نيمې پيړې راهيسې د پښتنو پر نړۍ د پوهاند زيار د معياري غورځنګ له برکته پر پښتني سيمو يو روښانه ځلانده لمر په راختو دی.
د ژبپوهنې له انده، ژبه په چوپتيا کې جوړيږي، کله چې يو انسان نيمه پيړۍ پر لوړ نړيوال اکاډيميک کچ زموږ مورنی ژبې ته په چوپه چوپتيا کې د سمون، رغون او پراختيا لپاره فکر او کار کړي وي، آيا دا مخکښ پيلامګر، نوښتګر او ستر انسان پوهاند دوکتور زيار د پښتو ژبې پلار نشي بلل کيدای ؟ ژبپوه پوهاند زيار پر نړيوال کچ په ژبپوهنه کې لوړي زده کړي کړي دي. د پارسي، عربي، انګريزي او الماني ژبو په معيارنو او ارونو پوهيږي او ګړيږي. استاد نړيوالو معيارنو او آرونو ته په کتو سره زموږ ناکره ګډه وډه، خوره وره، پر ګړدودنو رنګول شوي ژبې ته د نړيوالو ټولمنلي معيارنو پر بنسټ ژبپوهنيزو معيارونه، يو کره فورم او ستايل رامنځ ته کړي دی.
يوويشتمه پيړۍ کې پوهاند زيار يوازينی بېدودی (استثنايي) ستر علمي شخصيت دی، چې زموږ مورنی، ملي، رسمي پښتو ژبې ته د وخت له غوښتنو سره سم په بشپړه توګه، په معقوله، منطقي، مناسب ډول پيلي او الزامي توګه په کتابي نړه بڼه کې د يوې يوازيني کره ليکنی پښتو ريفورم کړي او رغولې او يوې کره پښتو ليکلارې اړوند


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولـئ

ليکدود (اورتوګرافيک) يو ځايليکل او جلا ليکل او د نا کره آره بڼه له کره شوي ليکنبڼې په اړوند ليکنې او لاربښوونې کړې دي.
که نن تول روڼ اندي ځانخبري پښتانه په وينبه او عملي توګه د زيار په غورځنګ کې په برابره کچه ونډه واخلي، د پښتنو راتلونکي نسلونه به يوه کره او يوه يوازينی ليکنی بڼه له وړکتونه تر پوهنتونه په علمي معياري اداڼه کې زده کړي او پښتو به په ټولو دولتي ادارو او رسنيو کې يو ډول په ټولمنلي توګه وکارول شي .له دې امله د لرغوني پښتو ژبې په تاريخ کې د ستر پوهاند زيار اهميت او مخکښتوب پرته له شک و شوبيانه منلي شوي دی. د پښتو ژبې د پايښت او ودې، د پښتو ژبې ليک لوست او د ليک ليږ رالیږ کي د يوې واحدې کره ليکني بڼه څښته ډيره اړينه ده.
اوس د ډيرو روڼ اندو پښتنو هوښ او فکر سر ته راغلي او پوهيدلي دي، چې خپله مورنۍژبه پلل تعصب نه دی، بلکې تعصبونه لمنځه وړل دي.له دې امله پښتوکوو، پښتو وايو، پښتو ليکو، پښتو پالو، په پښتو او پښتونولی وياړو او د پښتو ژبې مخکښ پوهان لمانځو. پښتانه پوهيږي چې د خپلې مورنی ژبې يووالي او د پښتنو يووالي ته پرته له خيبره بله لار نشته.
د ښاغلي زيار غورځنګ د لاربښوونو او لاربښودونو له امله نن د پښتو ژبې ويښ ليکوال او قلموال په رسمي او يا نارسمي ډول په کارونک او دودونک کي لږ يا ډيره ونډه اخلي. وسمهال پښتانه ځوان قلموال او ليکوال د خيل ټبريز او سيمه ييز ګردود پر ځاي د سراسري يوې يوازينی کره ليکنۍ پښتو زده کړې او کاروني ته ځښتي ډير اهميت او ارزښت ورکوي. د پوهاند زيار پوهنيزه غورځنګ د لاربښوونو او لاربښودونو پر له پسې هڅو او اغيزو په پايله کې ډيرې ليکوال، خپرنوال او رسنوال يوه يوازينی کره ژبه کاروي.
نن ډير ځانخبري پوه پښتانه روڼ اندې ليکوال، قلموال او رسنوال د ښاغلي پوهاند مجاړو احمد زيار په مشرى د نيمې پيړی راهيسي پيل شوي غورځنګ د ژبنې کولتور هاندو او هڅو لاربښودونو سره سم د يوې کره ليکنی پښتو په خپروني او دودوني کې بوخت دي.
د يوې کره ليکنی پښتو معيار غورځنګ د لاربښوونو سره سره بيا هم ځيني پښتانه ليکوال داسي ليکني کوي، څنګه چې دی خبرې کوي، ليکوال نشي کولالي خپل سيمه ييز ګردود ناکره ژبې له يوې کره معياري ژبې څخه بېله وساتي. زه پخپله د خپلي سيمه ييز تبرني ځدراني قبيلي ګردود تر اغيز لاندې يم، تر وسې وسې هڅه کوم د يوې کره پښتو ليکلاري لاروي په توګه دغه دواړه ژبې بيلي وساتم.
که چيرې هر څوک داسي ليکني کوي، چې څنګه يي دی غواړي، لوستونکی بايد په وار وار له ځانه سره په ابهام کې مشوره وکړي او يا له ځانه پوښتنه وکړي، دا څه مانا لري او يا څه مانا ورکوي.
د ډيرې خواشينی او نهيلي خبره ده، د څه د پاسه نيمه پيړی د زيار د معياري غورځنګ له سلګونو لاربښوونو لار ښودونو، کره کتنو او نيوکو سره سره بيا هم ډيرې اوسني زدکړوال او ليکوال پر دغه نابښنوړه ګناه سترګې پټوي او غوړونه کڼوي او د نيم پيړيزو معياري غورځنګ له خپرنو او ازمښتونو سره ځانونه نه سموي.
پښتانه مجبور دي خپل لنډ تنګ ټبريز سيمه ييزګردود د يوې سراسري کره پښتو ژبې ليکدوده بيل کړي.

## د پوهاند زيار ژبپوهنيزه غورځنګ ځيني ګوتنيونکي

دا ګونيونکي پرته له کوم منطقي علمي بنسته يا د نوې ژبپوهنې آرونو او يا ژبپوهنيزه تيوريکي ملاتړه د پوهاند زيار نيم پيړنيز ژبپوهنير غورځنګ په وړاندې بې بنسته ګوتنيونکي څرګندوني کوي. ځيني ټاکلو متعصبه ناپوهه کړی د ژبپوه پوهاند زيار ژبپوهنيزو علمي فعاليتو ته د ختيځي او لويديځي ګردود ترمنځ د ټکر يا سيالی رنګ او بوی ورکوي او په ډيره ناپوهي سره د پښتنو تر منځ د بې اتفاقي يو بل درز اچولو ته لاره خلاصوي.
ځيني ساده پښتانه ليکوال بيا په دې اند دي، چي يوه ساده لنډه روانه او اسانه پښتو ژبه او پښتو ليکلار بايد وکارول شي، څو هر لوستونکي او هر اوريدونکی پرې پوه شي. دا ډول ليکوال کليوال او سيمه وال فکر لري. دوی په نورو ژبو کې کره اکاېميکه ژبه او څيړنيزه ليکنه نه ده پيژندلي او نې خپله کوم علمي تبزس ليکلي او که ليکلي هم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

وي، دوی پرخپل لنډ تنګ سیمه ییز ګرډود کې لیکلي دی. دوی د خپلې پښتو ژبې له څواک او توانه ناخبر دي، دا ډول خلکو ته سکته (قناعت) ورکول ډیر ګران دي، ځکه یو خوا د ژبې او ژبپوهنې په توپیر نه پوهیږي او بلخوا ژبپوهنیزې لیکنې څېړنې د هر نیمه زده کړه وال او نیمه لیکوال چار نه ده.
ځینې نور بیا د پوهاند زیار نیم پیړنیزو څېړنو او ازمېښتونو ته وایي،,, نو داسي کره ژبه به په څه درد وخوري چي زما په شان پښتانه یې لاهم په مطلب اخیستلو کې ستونزې لري,,. که له دې ښاغلي پوښتنه وشي چې په ایراني پارسي، اوردو او انګریزي ژبو پوهیږی، ځواب بلې دی. دی بیا هم وایي د پوهاند زیار په نړه کره پښتو ژبه نه پوهیږي ؟. په ټولو ګوتنیوکو کې دا ګوتنیوکه ډیره د افسوس وړ خبر ده. که زما په شان اماتور نیملوستي زدکړوال، کابل او لویدیځ ځیلې پښتانه چي د دریو نسلو راهیسي د خپل کلیوالي چاپیریاله بهر په کابل او لویدیځ کې ژوند کوي، کله چي دوی په لومړي ځل د پوهاند زیار په کره لیکلار باندې پوهه نشي، په دویم ځل لوستلو سره د پوهاند زیار په پوهنیزه څېړنو او لیکنو باندې سم دم پوهیږي او مطلب تیرینه اخیستلي شي. موږ باید په دې هم وپوهیږو، چي هر څوک د زیار پشان نړه علمي لیکنه نشي کولای .
د پوهاند دوکتور زیار هغو ګوتنیونکو ژبپوهانو او لیکوالو ته، چي وایي پښتو ژبه یي ګرانه یا پیچلې کړي ده، ځواب داسی دی، د نړیوالتوب، ټیکنالوجی او د نورو سیمه ییزو او نړیوالو ژبو پرمختیا له ځغلنده بهیر سره د پښتو رغنده او علمي هڅه ولې د تشو خبرو او انګروزو بلهاري شي؟
پوهاند زیار په خپله یوه بله مرکه کې دغو ګوتنیونکو ته داسي وایي: هو، که زما د مړینې پر سبا کومه نوې ژبپوهنیزه تیوري پیدا شوه، او د کومي معجزې له مخې کوم پښتون ژبپوهاند، لکه خربړی له ځمکې را زرغون شو، دا ربښته لري چي ووایي، په پښتو ژبپوهنه کې د زیار اړونده زده کړې او کارولې تیوري نوره نه چلیږي، نه دا چي ستا په خبره، د تیورۍ پرځای زما بد ووایي او اروا مې نارامه کاندي.
پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار پوهیږي او په ډاډمنه توګه وایي: د معیاري پښتو ګاډی یا (ماشین) په خوځښت راغلی، نور یې څوک مخه نه شي نیولی.
ژبپوهنه، وییپوهنه، توکمپوهنه او د ژبې ځانګړې ځانګپوهنې، نیوجیزم، نویزونه او د ژبې داسي نورې برخې په اړه پوهنیزې چارې د هر اماتور ژبپوه کار نه دی. پوهاند زیار په دې برخو کې ځښتې ډیرې څېړنې کړي او علمي کتابونه لیکې دي.
پوهاند زیار نیمه پیړی زیار ایستلي، څو زموږ ملي رسمي ژبه او زموږ مورنی ژبې د لاسبرو ژبو له ګونډو په بریالي توګه را وباسي او ورسره پښتو ژبې ته یو نوی سبک و ستایل وروبښلي دی. پوهاند زیار د خپلې ژبپوهنیزې پوهې پربنسټ یو عمر زیار ایستلي دی، څو کره پښتو ژبه له ګړدودنو او ګړدودنه له کره ژبې څخه د یوې کره لیکلار او لیکدود له لارې بیله کړي.
پوهاند زیار یوویشتمه پیړۍ کې تر ټولو پوهانو مخکښ د پښتو ژبې یو ستر نابغه علمي اکاډمیک شخصیت دی. چې د پښتو ژبې په تاریخ او د پښتو ژبې په نړۍ کې ساري نه دی لیدل شوي .

## پایله:

زموږ پښتو ژبه هم لکه د نړۍ نورې ژبې د ګړدود او کره لیکښې ربړی او ستونزې لري. پوهاند زیار زیار ایستلي او دا ستونزې پیژندلي او را کمې کړی دي. پوهاند زیار د وخت له اړتیاو او غوښتنو سره سم نوې ریفورمونونه او سمونونه رامنځ ته کړي او پلي کړي دي.د ولس عام ذهنیت راوپښ کړي او پوهولي، څو په نویو ژبنی بدلونونو کې چټک کوټلي ګامونه واخلی.
زما په اند پوهاند دوکتور مجاور زیار یو افغانشموله نړیوال افغانپوه دی، د هغه په پوهنیزو فعالیتونو کې د ختیځې او لویدیځې لهجې رنګ، خوند او د ټکر بوی نشته. پوهاند زیار په خپله ستره عالي پوهه کې هیڅ وخت سیمه ییز فکر کولي نشي.دی پخپله ستر پوهه کې د درست پښتون افغان ولس کره ژبې ته فکر کوي. د پوهاند زیار په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ژبپوهنيزه پوهي کي لوی کندهار، کابل، کندوز، لويه پکتيا، لوی وزيرستان، تاريخي ښار پېښور، سويلي پښتونخوا، کوټه او لوی ننګرهار کي شته ګردودنه يو شانته ګوري. دی په دې ډير ښه پوهيږي، چې نن ټول پښتانه يوې سراسري يوازينۍ کره پښتو ليکنۍ ته اړتيا لري. تر پوهاند زيار مخکي هيڅ يوه بل پښتون ژبپوه په دې ډول يوه ژبپوهنيزه منطقي طرحه او تيوري پښتنو ته نه ده وړاندې کړي او له پوهاند زيار ورسته به هم کوم افغان پښتون د معجزې له مخي د ده ژبپوهنيزه تيورۍ په وړاندې يوه بديله تيوري وړاندې نشي کړی.

که چا په ورستي نيمه پيړۍ کي د استاد زيار تيوريکي او عملي ژبپوهنه، پوهنيز څېړني، ليکني، کتابونه او ادبي هستوني لوستلي يا کتلي وي، دی د پرلپسي رغښتي او ليکودي سمونونو يا ريفورمونو سره مخامخ کيږي او ټولي هڅي يي يوې يوازينۍ کره پښتو ليک بڼي ته تر سره کړي دي. د پوهاند زيار وړو قاموسونو په تېره د نوېزونو، هممانيزونو او سربلونه او په دې وروستيو کي د پښتو ژبي ليکلارښود د يوې- کره ليکنۍ پښتو روان پرمختيايي بهير دومره چټک پرمختګ کړي، چې په ټوله مانا دا غورځنګ پورښتيني يو واريز غورځنګ ګڼل کيداي شي.

ټول پښتانه پوهيږي، چې پښتو ژبه د ګردودنو په لومه کي ښکېله پاتي ده. پښتو ژبه لکه نورې ژبې د معيار ربړې لري.هره ژبه په خپل ټولنيز بهير کي وده کوي. ګڼشمېر ګردودونه په يوه ژبه کي راټوليږي او ورو ورو د معياري ژبي بڼه اخلي. په دې لاره کي بايد د ژبپوهانو له لوري ورهواری شي.

د پوهاند مجاور احمد زيار د پښتو ژبي د معياري کېدلو په برخه کي پوهنيزه څېړني د درنښت وړ دي. استاد مجاور احمد زيار په خپلو څېړنو کي په زغرده د پښتو تاريخ او پښتنو ټولنيزې ستونزې نيغ په نېغه يادې کړي دي او د ځوان پښت پام يي د ژبي او ټولنيز ژوند خوالو او ناخوالو ته اړولی دی او په ډېره روښانه بڼه يي ستونزې يادې کړې دي او علمي حلالارې ورته وړاندې کړې دي.

پوهاند زيار افغان ځوان پښت لپاره د ژبپوهني او د پښتو ژبي ودې او پراختيا مبارزه کي يوه ځلانده مخکښه څېره دی. دی ځوان پښتني پښت ته نوې ژبپوهنيز فکرونه وړاندې کوي. پښتو ژبه يي په نويو ژبپوهنيزو آرونو د نورو ژبو سره سياله ګرځولي ده.

پوهاند زيار پخپلو ژبپوهنيزو هلو ځلو کي د يوې کره پښتو ليکلارې په اړه پښتو ليکدود، پښتو ليکلارې په برخه کي، د نوې ژبپوهني موخو ته د رسيدو پر مهال هغه وخت نوره بريالي کيدای، چې زه او ته ورسره مل شو او د زيار معياري غورځنګ ليکني هڅي او نوښتونه نوې پښتون نسل ته ورسوو .

ړون اندې ويښ پښتانه نوره په خبره پوه شی، وخت بايد نوره ضايعه نکړی، د زيار د غورځنګ لارښوونو او لارښودونو سره سم پر ته له تعصب او تنګنظريو څخه خپل قلم او خپله ژبه وچلوی او له دې غورځنګ سره بايد په ريښتني توګه مل شی. د پښتنو تر منځ د نا پوهي او بي تفاوتي لوبه بايد پای ته ورسوی. پښتانه بايد وپوهيږي، چي د لر او بر يو افغان ملت د يووالي په لاره کي د پښتنو ژبني يووالي تر ټولو لومړني ازموينه ده

هيله ده، چي سږ کال د ويښو ځوانانو افغانانو، سياسي، مدني فعلانو، ليکوالو او د پښتنو مشرانو له لوري د غبرګولي په اتمه نيټه د پښتو ورځ په نمانځغونده کي د افغانستان د علومو اکاديمیمشرتابه څخه غوښتنه وکړي،څو پوهاند دوکتور مجاور زيار رسماً د پښتو ژبي پلار په نامه وستايي.

د ټولو پښتومينو د سم پوهاوي په هيله، په ټوله پښتني مينه د پښتو ژبی پلار ته درنښت.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ